# د افغانستان اسلامي امارت

# د اوبو او انرژۍ وزارت

## د انرژۍ معینیت

### د انرژۍ د برنامو ریاست

### د انرژۍ پروژو د عامه او خصوصي مشارکت آمریت

### د جوزجان ولایت د خمآب او قرقین ولسوالیو د برښنا رسونې په پروژه کې د پانګونې د لېوالتیا د څرګندولو غوښتنه

### له طریقه د

### خصوصي پانګه اچونه / د عامه او خصوصي مشارکت طرحه

### د عامه او خصوصي مشارکت ماډل: جوړونه-ګټه اخیستنه-لیږد

**کال: ۱۴۰۱ مطابق ۱۴۴۴**

پته: د اوبو او انرژۍ وزارت، د سناتوریم سرک دارالمان کابل - افغانستان

## د لېوالتیا څرګندولو لپاره غوښتنه (EOI)

## پېژندنه

د افغانستان د اوبو او انرژی وزارت (MEW) چې د هیواد د انرژی او اوبو د سکټورونو د هراړخیز مدیریت او پراختیا مسولیت په غاړه لري. د هیواد د وضعیت او د زیربناوو په پراختیا کې د خصوصي سکټور د اغیزمن رول په درک کولو سره، تل هڅه کړې چې د خدماتو په عرضه کې له شته عامه فرصتونو څخه اعظمي ګټه پورته کړي او د مالي منابعو او د خصوصي سکټور د تجروبو په کارولو سره د برېښنایي انرژی سکټور پراختیا ومومي.

په خوښۍ سره، د جوزجان ولایت د خمآب او قرقین ولسوالیو ته د برېښنا رسونې په پروژه کې د کورنیو او بهرنیو خصوصي پانګه اچوونکو لپاره کوم چې د ترکمنستان له پولې څخه تر یادو ولسوالیو پورې د ۳٦ کیلومتره په اوږدوالي د ۱۱۰ کیلو ولټاژ د برېښنا د لیږد مزي غځول، دوه سب سټېشنونه چې ټول ظرفیت (١٦ MVA) او د توزیع شبکه (١٧.٧٧MVA) لري د رغولو چارو فرصت شامل دی. د عامه او خصوصي مشارکت له طریقې څخه په استفادې په یادو ولسوالیو کې پیلیږي، چې خصوصي اړخ به د مالي، ډیزاین، جوړولو، ګټه اخیستنې او د چارو مسولیت د قرارداد تر پای ته رسیدو پورې د پروژې ساتنه په غاړه ولري؛ اعلان کیږي.

## موخه

د پانګې اچونې د لېوالتیا د څرګندولو لپاره د غوښتنې (REOI) د اعلان عمومي موخه د یادې شوې پروژې په تړاو په لاندې ډول ده.

۱- خصوصي سکټور ته د دې پروژې په اړه هر اړخیز معلومات ورکول او د داوطلبۍ په پروسه کې د هغوی ګډون په شفاف ډول.

۲- د اوسنیو فرصتونو او اړتیاو په پام کې نیولو سره د داوطلبۍ اسنادو ترتیب او بشپړولو لپاره د خصوصي اړخ څخه د اغیزمن نظرونو ترلاسه کول.

۳- د انرژی په پروژو کې د وړ پانګه اچوونکو د لېست چمتو کول او تنظیمولو لپاره کورنیو او بهرنیو پانګه اچوونکو ته د فرصتونو برابرول.

۴- په افغانستان کې د برېښنایي انرژی سکټور په فرصتونو کې د پانګونې لپاره د سیالۍ (رقابتي) فضا رامنځته کول.

۵- د یوې دولتي ادارې په توګه د اوبو او انرژی وزارت لېوالتیا او ملاتړ چې د انرژی په سکټور کې د پانګونې لپاره د د برېښنا انرژي سکټور وده کوي.

٦- د برېښنایي انرژی په سکټور کې په ځانګړې توګه په دې پروژه کې د لاندې مسایلو په اړه د پانګه اچوونکو د نظرونو د ترلاسه کولو او د لازمو ځوابونو د ترلاسه کولو په موخه د لومړۍ درجې مسوولې دولتي ادارې معرفي کول:

i. د کار ساحه

ii. وړاندیز شوی پروژه او د معاملې جوړښت

iii. د پروژې اړوند خطرونه او اندیښنې

iv. د پروژې د داوطلبۍ او تدارکاتو طریقه او مهال ویش

په اخر کې د اوبو او انرژۍ وزارت د ټولو کورنیو او بهرنیو خصـوصي شریکانو د اغیزمنو نظریاتو او په دې پروژه کې د پانګونې او همدا رنګه د برښـنا انرژۍ په برخه کې د نورو فرصــتونو په برخه کې د هغوی تود هرکلی کوي. د پروژو ټول د داوطلبۍ او تدارکاتو پروسه به د افغانستان د اسلامي امارت د نافذه قوانینو او پالیسیو په رڼا کې ترسره کیږي او په دې سند کې موجود معلومات باید په هیڅ صـورت کې د قوانینو سره ســم د پروســې د بشــپړو مرحلو له تیرولو پرته د تړون په پایله کې د اوبو او انرژۍ وزارت د موافقې د لاسلیک په توګه ونه ګڼل شي.

## په عموم کې د تدارکاتو طریقه

### الف. د لېوالتیا د څرګندولو لپاره د وروستنۍ نېټه لاربښوونه

د لېواله پانګه اچوونکو څخه غوښتنه کیږي چې د لاندې بریښنالیک له لارې خپله د لېوالتیا څرګندونه را ولیږي:

ښاغلی مجیب الرحمن شریف، د مشارکتي تدارکاتو او قراردادونو ارشد کارشناس energy.pppunit@mew.gov.af

### په کاپي کې:

۱- ښاغلی انجنیر فرهاد محمودي، د انرژۍ د برنامو رئیس: eng.mahmoody@gmail.com

۲- ښاغلی نصرت الله امین، د انرژۍ پروژو د عامه او خصوصي مشارکت آمر: nasrat.amin66@gmail.com

د لېوالتیا څرګندولو د لیږلو وروستۍ نیټه ده {۲۰۲۳/۰۱/۱۶}، ماسپښین تر ۱۵:۳۰بجو پورې. (د افغانستان وخت).

### ب. د وړتیا لپاره غوښتنه (قابلیت) - RFQ

**الف.** د وړ مرحلې په جریان کې(RFQ)، علاقه لرونکي پانګه اچوونکي د اړتیا وړ شرایطو او معیارونو سره سم خپلې غوښتنې او ضمیمه اسناد را لیږي. د دوی اسناد د شرایطو او معیارونو سره سم ارزول کیږي او وړ غوښتونکي د دې مرحلې په وروستي لیست کې ځای په ځای کیږي.

**ب.** د وړتیا اسنادو د ارزونې په مرحله کې؛ د اوبو او انرژۍ وزارت لخوا د نافذه قوانینو سره سم په خپلواکه توګه بشپړ شي او وړ غوښتونکو ته د خبرتیا وروسته به پای ته ورسیږي.

### ج. د پروپوزل لپاره غوښتنه (RFP)

**الف.** د پروپوزل مرحلې غوښتنه (RFP) د رقابتي تدارکاتو میتود دی. کوم چې د وړ مرحلې (RFQ) معیارونو په پام کې نیولو سره تعقیب کیږي. په دې مرحله کې، وړ داوطلبان د وړ مرحلې څخه رابلل کیږي، اړین اسناد (پروپوزلونه) د غوښتنې سره سم د اوبو او انرژۍ وزارت ته سپارل کیږي. سپارل شوي اسناد د تخنیکي او مالي معیارونو سره سم ارزول کیږي کوم چې په RFP کې ټاکل شوي، او وړ داوطلبان د داوطلبۍ په وروستي لیست کې شامل دي. ګټونکی داوطلب د دواړو مرحلو معیارونو او د برښنا تر ټولو ټیټ پلور نرخ پر اساس انتخاب کیږي.

**ب.** د RFP په مرحله کې د داوطلب له انتخاب وروسته، د PPP قرارداد به وروستی او لاسلیک شي.

## الف. د RFQs او RFPs لپاره د راتلونکي پړوانو پروسه

| لمړی فاز– RFQ |
|---|
| د خبرتیا خپرول او د وړ غوښتنې لپاره د معیاري سند خپرول RFQ |
| د ځوابونو سپارلو لپاره وروستۍ نیټه یا RFQs |
| **دوهم فاز– RFP** |
| د RFP خپرول او د RFP مرحلې د وړ داوطلبانو لپاره د PPP قرارداد مسوده خپرول |
| د تخنیکي او مالي وړاندیزونو چمتو او وړاندې کول |
| د ګټونکي داوطلب انتخاب |
| د قرارداد لاسلیک PPP |

## د خصوصي اړخ صلاحیتونه او امتیازات

ټول اشخاص، په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو (شرکتونه، لوړ مهارت لرونکي شرکتونه، کنسورسیومونه یا ګډ شرکتونه) چې تخنیکي او مالي وړتیا ولري، کولی شي خپله د لېوالتیا ځرګندونې وړاندې کړي.

که څه هم حقیقي وړ پانګه اچوونکي د RFQ پروسې په جریان کې پیژندل کیږي.

پانګه اچوونکي کولی شي خپله لېوالتیا په لاندې ډول ځرګنده کړي:

۱- هغه شرکتونه چې مالي او تخنیکي وړتیا لري او د PPP یا EPC په توګه پخوانۍ تجربه ولري.

۲- د سوداګریز ماهیت لرونکي شرکتونه چې مالي وړتیا لري هم وړ دي، په دې شرط چې دوی نور قراردادي شرکتونه د فرعي قراردادیانو (EPC او O&M) په توګه معرفي کړي ترڅو د تخنیکي ظرفیت تشه ډکه کړي.

۳- هغه شرکتونه چې تخنیکي وړتیا لري هم وړ دي په دې شرط چې دوی د مالي وړتیا تشې ډکولو او د پروژې تمویل لپاره مالي نوماند معرفي کړي.

## سوداګریز

### الف. د PPP ماډل

د پروژې عمومي موخه د جوزجان ولایت د خمآب او قرقین ولسوالیو د برښنا رسونې د پروژې قرارداد د مناسبې بیې او ښه سوداګریز کړنلارې په پام کې نیولو سره په ټاکلې موده کې د عامه او خصوصي مشارکت په طریقه به سره وي.

### ب. د پروژې جوړښت

لکه څرنگه چې اوس مهال وړاندوینه شوې، د پروژې جوړښت د پورته ذکر شوي هدف سره سم د عامه او خصوصي مشارکت له لارې په لاندې ډول دی:

۱- د جوزجان ولایت د خمآب او قرقین ولسوالیو د برښنا رسونې پروژه د (BOT) ماډل (جوړونه-گټه اخیستنه-لیږد) په گډون د عامه او خصوصي مشارکت په طریقه د گټونکي داوطلب سره به د اسلامي امارت د نافذ قوانینو سره سم په ځانگړي قرارداد کې لاسلیک کیږي.

۲- گټونکي داوطلب د ذکر شوي برښنا رسونې پروژې مسؤولیت په غاړه لري په شمول د (اساسي سروې او ډیزاین بشپړول، د ترکمنستان له پولې څخه د جوزجان ولایت د خمآب او قرقین ولسوالیو پورې د ۳۶ کیلومتره په اوږدوالي د ۱۱۰ کیلو ولټاژ د برښنا د لیږد مزي غځول، دوه سب ستیشنونه۱۱۰/۲۰ کیلو ولټه چې ټول ظرفیت (۱۶) میگا ولټ امپیره او د برښنا انرژی (۷۷.۱۷) میگا ولټ امپیره د منځنۍ او توزیع شبکې غځول) د ملي او نړیوالو معیارونو سره سم د قرارداد له لاسلیک وروسته د دوه کلونو لپاره.

۳- د پروژې له جوړولو وروسته، گټونکی داوطلب به الی تر ۲۰ کلونو پورې د پروژې کار او ساتنه کوي او د وروستني قرارداد سره سم به د برښنا پیرودونکي څخه د پانگونې لگښت (اصلي لگښت + فایده) ترلاسه کوي، او د قرارداد په پای کې، د پروژې ټولې شتمنۍ په فعاله او خوندي توگه د دولت د استازي په توگه د اوبو او انرژی وزارت ته لیږد کوي.

۴- گټونکی دواطلب کولی شي د شرایطو سره سم پروژه د خپلو مالي، تخنیکي او تکنالوژي منابعو په کارولو سره تطبیق کړي، یا د نورو شرکتونو یو یا دوه مالي او تخنیکي منابع د کنسورسیم یا شراکت په توگه وکاروي، په دې شرط چې تمویل کونکی به د پروژې د رهبرۍ کولو مسؤولیت لري. همدارنگه، گټونکی داوطلب کولی شي د پروژې لگښت یو څه برخه د پورونو له مالي منابعو څخه تمویل کړي، په دې شرط چې د پور اخیستلو شرایط او طریقه د افغانستان د اسلامي امارت د نافذه قوانینو او پالیسیو خلاف نه وي.

۵- د گټونکي داوطلب په وروستي پړاو کې، د داوطلبۍ په معیاري اسنادو کې د مشخصو شرایطو او د ټیټ او مناسب تعرفې نرخ د اړخونو د موافقې له مخې ټاکل کیږي. د پروژې لگښت بیرته ترلاسه کولو څرنگوالی او د خصوصي اړخ د مالیې تادیې مسؤلیتونه به په وروستي قرارداد کې د خبرو اترو وروسته د مقرراتو سره سم تنظیم کیږي.

۶- گټونکی دواطلب مسؤلیت لري تر څو ټول سوداگریز جوازونه واخلي، وزارت به د نافذه قوانینو سره سم د آسانتیاوو په برابرولو کې همکاري ورسره کوي.

۷- د پروژې پلي کول د ځانگړې پروژې تر نوم لاندې تنظیمیږي او خصوصي اړخ مسؤلیت لري چې د واضح پلان او تخنیکي معیارونو او قانوني مقرراتو په نظر کې نیولو سره پیرودونکو ته په مناسب کیفیت برښنا ورسوي.

۸- د اوبو او انرژی وزارت به د افغانستان د دولت په استازیتوب له ترکمنستان څخه د برښنا د پیرلو، د برښنا د پیرلو د پیسو په لیږد، د تجهیزاتو په واردولو او تخنیکي کارکونکو په برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوکړې له مخې د نافذ قوانینو سره سم خصوصي اړخ ته آسانتیاوې برابروي.




۹- نقش او مسؤلیتونه:

## الف. د اوبو او انرژی وزارت

- د پروژې د ډیزاین او تطبیق په اړه د نظر وړاندې کول
- خصوصي اړخ ته د ګټه اخیستنې حق او د پروژې لپاره د اړتیا وړ ځمکې پرته له کوم خنډ ورکول.
- د پروژې، ځمکې او پاتې شتمنیو د وروستنۍ څښتن په توګه.
- د خصوصي سکتور لپاره د برښنایي انرژی د اړتیا وړ جوازونو صادرول.
- د قرارداد د احکامو سره سم د خدماتو کیفیت او کمیت ډاډمن کولو لپاره د قرارداد څخه څارنه کول.
- د فعالیت په جریان کې د خصوصي سکتور په کاري ساحه کې د تخنیکي او غیر تخنیکي شاخصونو نظارت او پلي کول.

## ب. خصوصي اړخ

- د اوبو او انرژی وزارت د لید پر بنسټ د پروژې پلان او ډیزاین کول
- د مالي وجوه تمویل
- د پروژې د ښه تطبیق لپاره د تضمین چمتو کول
- د پروژې د جوړولو او تاسیساتو بشپړول او د هغې پراختیا
- د پروژې د آسانتیا لپاره د بیمې ترلاسه کول او ساتل
- د پروژې د مناسبو منابعو په کارولو سره ګټه اخیستنې او د تاسیساتو د مدیریت مسؤلیت درلودل
- د قرارداد مطابق د قانون او مقرراتو اطاعت کول.
- د قرارداد له پای ته رسیدو وروسته د پروژې مالک ته د پروژې ټولې شتمنۍ سپارل.

### ج. د پروژې وروستنۍ سپارل

د پروژې د ګټه اخیستنې مودې له پای ته رسیدو وروسته، قراردادي به د پروژې ټول ملکیتونه د پروژې څښتن ته سپاري. او د پروژې مالک صلاحیت لري چې د ګټه اخیستنې قرارداد د همدې شرکت سره په مخکینیو شرایطو یا د شرایطو بیاکتنه وکړي او قرارداد ورسره نوی کړي.

### د EOI سپارلو اړتیاوې

د لېواله پانګه اچوونکو څخه غوښتنه کیږي چې د EOI برخې په توګه لاندې اسناد وسپاري:

۱- د لېوالتیا څرګندولو لیک؛

۲- د سوداګری جواز معتبر ه کاپي؛

۳- د شرکت پروفایل؛

۴- د شرکت د تیرو دریو کلونو د مالي پلټنې راپور

۵- صلاحیت لیک، د شرکت استازی

### ه. د اسنادو ارزونه (وړاندیزونه) او وضاحت

۱. د اوبو او انرژی وزارت د لېوالتیا ټول اسناد د غوښتنې مطابق په سمه توګه ارزوي.

۲. د لېوالتیا د څرګندولو د ارزونې په جریان کې، د اوبو او انرژی وزارت کولی شي د لیواله پانګه اچوونکي څخه د نورو توضیحاتو غوښتنه وکړي.

### ی. د اسنادو د ارزونې په برخه کې د اوبو او انرژی وزارت صلاحیت

۱. د انرژی او اوبو وزارت په خپلواکه توګه صلاحیت لري چې د لېوالتیا څرګندولو اسناد او ضمیمې تصویب یا رد کړي او همداراز وزارت هم دا صلاحیت لري هغه لېوالتیا څرګندونې چې غلط او ګمراه کونکي معلومات ولري رد کړي.

۲. د اوبو او انرژی وزارت به د اسنادو د ارزونې پایلې د اړتیا سره سم او د لیوالتیا نوماندانو په غوښتنه د دوی سره شریک کوي.